مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد یوسف صابر ساپی ۲۰۲۶/۰۳/۲۱

# دوې حياتي اړتياوې

د افغانستان په سپيڅلي خاوره د پاکستان هوايي ځواکونو ړندي بمباري او پر جنګ ځپلو افغانانو باندې د پاکستاني پوځيانو توره او بريښ دوامداره او ورځنی چار ګرځيدلی دی. د نړی د نورو دولتونو زياتره مشران ملنډې وهونکي ننداره چيان شويدي. عامه نړيوال ذهنيت د انحصاري رسنيو په تارونو کي بند پاتي دي. د اسلامي امارت مشران د خپلو انتزاعي باورونو په مستی کي اسمان په لوتو ولي...

**دا تول ولې؟**

په عامه منظر کي، داسي ښکاري چي په خيبر پښتونخوا او بلوچستان کي نا آرامي ده، پاکستاني طالبان او د بلوڅو آزادی غوښتونکي اردو د پاکستان د پوځ سره په جنګ اخته دي، هره ورځ په پوځي پوستو بريدونه کوي، پوځيان وژني او خپله هم قرباني ورکوي ...

**اما ددې شاته نور دوه منظره هم تر سترګو کيږي:**

لومړی، د پاکستان دننني اقتصادي، اجتماعي، سياسي او په ځانګړې توګه امنيتي بحراني وضعيت پاکستاني چارواکي اړباسي چي د خپل ولس او آن د نړيوالو په سترګو کي خاورې وښندي او د بيوسه افغانستان معصومه خاوره د خپلو ټولو نا آمنيو او ناخوالو مقصره وګڼي، ګني د پاکستان د بحرانونو ريښي په افغانستان کي پرتي دي. اما په واقعيت کي د ا تول بحرانونه په خپله د پاکستاني چارواکو د زيرکانه لوبو محصول دي.

له ډيره وخته راپديخوا پاکستاني واکمنان د ډبلو لوبو ماهران شويدي. پاکستان تر ټولو دمخه د افغاني طالبانو او TTP سره ډبله لوبه وکړه. پاکستاني پوځيانو د طالبانو په لومړي ځل راپورته کولو او بيا د امريکا سره يوځای د طالبانو د لومړی واکمنی په راپرځولو کي فعال رول درلود. يوځل بيا يی په افغانستان کي د ټولو زيربناوو او نظام له منځه وړلو په هدف افغاني او پاکستاني طالبانو سره په پټه فعاله همکاري ترسره کړه. اوس په مکياولستي شيوو سره په افغانستان او پښتونخوا کي د خپلو ټولو ناکردو مسُوليت د افغاني او پاکستاني طالبانو په غاړه اچوي.

پاکستاني مشرانو يوازې د طالبانو سره دا ډول چلند نه دی کړي. پاکستانيانو د چينايانو سره هم ډبله لوبه وکړه، هم يې د سيپک په پروژه کي د چين ميليارډونه ډالر په پاکستان کي ولړول او هم يې د هغه رقيب متحده ايالتونو سره په ياری کي چينايان په ګوادر او نورو ځايونو کي وژل، تر هغه چي پروژه يې د ميليارډونو ډالرو لګښت وروسته اوس په ټپه ودرولي ده.

د پاکستان د هيله ګرو مکاري يوازې د خپلو ګاونډيو سره محدودې پاتي نه دي. پنجابيانو د متحده ايالتونوسره هم ډبله لوبه وکړه. د طالبانو د لومړي واکمنی له منځه وړلو له پاره د امريکايانو شانه به شانه ملګري وو، بيا يي د امريکايانو په ضد د جنګياليو پټنځايونه هم خوندی کول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پاکستاني چارواکي که د ډېلو لوبو ماهران شويدي، اوس په کې رانغښتي هم دي. ښکاري پاکستان د خپلو همدغو زيرکانه ډېلو لوبو په ډېرو لومو کې بند پاتې دی. اوس لکه سيلاب وړی هڅه لري د افغانستان سره په جنګ ـ جګړو، د ځان نجات له پاره هر بوټي ته لاس اچوي.

دويم، د پاکستان اجير پوځ د هميش په څير بيا د زبرځواک د سيمي د کړکيچ پروژه په غاړه اخيستي ده. د پاکستان پوځيان او دولتي مشران څو ځلي واشنګټن ته وغوښتل شول، لاس په نامه حاضر شول، د ټرلو دروازو شاته سره وغږيدل، په ښکاره د تکره پوځيانو او د امريکا د ښو دوستانو په توګه په شا وډبول شول. وروسته د ټرمپ له خوا د بګرام د هوايي ډګر د بيا ترلاسه کولو غږونه پورته شول. لدي سره په افغانستان کي د متحده ايالتونو د بيرني وتلو څخه د څو ميلياردو ډالرو په ارزښت پاتي وسلو د بيرته ورکولو يا له منځه وړلو آوازي هم زمزمه کيدلي .اما پر ايران باندې د متحده ايالتونو او اسرائيلو د بريدونو سره ښکاره شوه چي د سيمي د کړکيچنولو پروژه خورا ستره ده او پاکستان ددې سترې لوبې يوغوره ګوټک دی.

د کړکيچ ددې سترې پروژې هدف بيا هم هماغه د چين د « يوکمر بند او يوې لارې » د نړيوالي سترې پروژې او د ايران له لارې د فارس خليج ته د روسيي او چين د لاسرسي مخنيوی دی. د يو کمربند او يوې لارې نړيوالي پروژې د شپږو غوره برخو څخه يوه يې د سيپک پروژه وه چي امريکايي چارواکي وتوانيدل په پاکستان کي يې ودروي او د هند سمندر ته د چين د رسيدلو لاس غوڅ کړي. لدې سره چين د افغانستان او ايران له لارې ددې پروژې د عملي کولوجدي هڅې رواني کړيدي. دادی د ايران په سر د امريکا ـ اسرائيلو هوايي تندرونه او د افغانستان په سر د پاکستان هوايي تندرونه راغورځيږي. ګني ايران او د هغه اتومي تاسيسات د اسرائيلو له پاره او په افغانستان کي طالبان د پاکستان له پاره حياتي ګواښونه جوړوي. په سيمه کي د يهودو صيهونيستي پراختيا غوښتنه او د متحده ايالتونو استعماري اهداف هم څرګند دي.

په افغانستان کي رواني پيښي د ايران د حالاتو سره مخامخ تړلي دي او په دواړو هيوادونو کي د پيښنو انکشافات يو په بل مستقيم آغيز ښندي. د سترو نړيوالو کړکيچونو څخه د خپل هيواد ساتل د سياسي مشرانو سياسي مهارت او د ولس ټينګ ملي دريځ پورې تړلی دی. متأسفانه په وروستيو پنځو لسيزو کي افغاني مشرانو داسي کوم سياسي مهارت له ځانه ندی ښودلي، برخلاف پردی شخړې او جنګونه يې ارادي او غير ارادي هيواد ته رابللي دي. پدې لړ کي ډير کله ملي دريځ هم خلل مونډلی دی، يعني دهيواد په مصيبتونو کي هم مشران، د سياسي مهارتونو د کمزوری له کبله او هم ولس د ملي شعور د نشتون له کبله ګرم دي .

په اوسنيو حالاتو کي چي هيواد يو ځل بيا د تپل شوي جنګ په سر ولاړ دی، د هيواد ساتنه پرته له هيڅ شک او ترديد ملي فريضه ده. اوس افغانستان دوه حياتي اړتياوی لري:

- **ستراتيژيکه دفاع**

په څرګنده توګه پدې جګړه کي پاکستان تيری کونکی دی او افغانستان د دفاع په موضع کي قرار لري. د افغانستان دفاعي ځواکونه د همدغه مغرضه پاکستان او دننيو خاينينو په مټ له منځه وړل شويدی. ګران هيواد تر ننه پورې هم کوم منظم دفاعي سيستم نه لري. هر هيواد د ځان ساتني له پاره د اوسني عصر د غوښتنو سره سم برابر بشپړ دفاعي سيستم ته اړتيا لري.

ستراتيژيکه دفاع د جګړه ايبزو فعاليتونو تر ټولو غوره شکل دی. دا د پوځي، سياسي او اقتصادي اقداماتو مجموعه ده، دا د هر ډول دښمن د احتمالي بريدونو پر شاتمبولو ته مخکي له مخکي بشپړ چمتووالی دی، دا د ستراتيژيک اهميت لرونکو ځايونو ساتنه ده او په پای کي د متقابلو بريد ونو له پاره د مساعدو شرايطو اماده کي ده. د ستراتيژيکي دفاع هدف د خپلي خاورې او دولت ساتنه، د دښمن د احتمالي تيري او ګواښ مخنيوی، د دښمن برترو ځواکونو د بريدونو ماتول، دښمن ته اعظمي تلفات رسول او د متقابلو بريدونو له پاره وخت ګټل دي. ټينګ دفاعي سنګرونه، څو کربنه ييزه حلقوي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مدافعه او د متقابلو ضربو واردول د ستراتيژيکې مدافعي غوره متشکله اجزاُ دي. په اوسميو شرايطو کې تر ټولو لومړی د دښمن د هوايي برتري خنثی کولو له پاره ډاډمن مدرن دفاعي سيستم ترلاسه کول حتمي او ضروري دی. که امريکايي (patriot) دفاعي سيستم ګران دی، يا روسي (C-400) دفاعي سيستم ډيرې پيسې غواړي، هندي د الوتکو ضد راکټونه (VSHORADS) ډير ګران نه دي. د پاکستان د هوايي برتري له منځه وړلو او له ستراتيژيکې دفاع پرته، هيواد او موجوده واکمنۍ خوندي نه شي پاتې کيدلی.

- <u>ستراتيژيک بريد</u>

د دښمن مکررو بريدونو په مقابل کې هميشنی دفاعي وضعيت کمزوری کيدونکی او خلل موندونکی دی. نو ځکه د دښمن دوامدارو تعرضونو د اساسي چارې له پاره د ستراتيژيک بريد پلان لرل هم د هيواد ساتني حياتي اړتيا ده. ستراتيژيک بريد د وسله وال پوځ د ټولو صنفونو پراخ او هم آهنګه يرغليز عمليات دي چې هدف يې د دښمن د ځواکونو اصلي برخې له منځه وړل، د مهمو ځايونو نيول او د جګړې سياسي او پوځي موخو ته رسيدل دي. دا د بيلا بيلو پوځي څانګو مسلسل او يووخته جګړه ايیز عمليات دي چې د دښمن مقاومت ماتولو له پاره ترسره کيږي. کشف، استحکام، پلي، توپچي، دافع هوا، هوايي او نور ټول قطعات او جزُتامونه په کې يووخته برخه اخلي.

مخکې له مخکې د د دښمن د ځواکونو څیړنه، د هغو په هکله د دقيقو ارقامو ترلاسه کول او ارزونه د ستراتيژيکو پلانونو ضروري برخه ده. د باندينيو ملاتړو ځواکونو ارزونه هم د پلان ضروري برخه ګڼل کيږي.

دهيواد د ستراتيژيکې دفاع او ستراتيژيک بريد پلان د مسلکي پوځي کارپوهانو له خوا چمتو کيږي او د سياستوالو له خوا منظوريږي. د دا ډول هراړخيزه پلان جوړونې پرته په جګړو کې بشپړ برياليتوب ته رسيدل ناشونی دی. د اسلامي امارت جنګياليان سره ددې چې په چريکي جګړو کې اوږدې تجربې او ځانګړی مهارتونه لري، اما د منظمو جګړو خوب يې خيال يې په سرو کې نه درلود او دادی سرته يې راورسيد.

په جګړو کې برياليتوب پنځوس سلنه هغو ته مخکينۍ چمتووالي پورې تړلې دی. سره ددې چې د اسلامي امارت چارواکو د خپلې واکمنۍ په پنځو کلونو کې خپل ډير وخت او ځواک د دولتي چارو په ځای په شخصي او انفرادي مسايلو کې تير کړيدی، اما د هيواد ساتنې فريضې ادأ کولو له پاره هيڅ وخت ناوخته نه دی. د هيواد د دفاع ستراتيژيکه پلان ګزاري د دولت دنده او د ټولو هيوادوالو ملي فريضه ده، ځکه نو د هيواد هر وګړې ددې ستراتيژي د سرته رسولو فعال غړی دی، هر يو نظر په خپل موقف او توان سره ددې فريضې سرته رسولو کې برخه اخلي. د چا د ضمير سترګې بايد ړندې وي چې ليدلي ونه شي: پاکستان نه يواځې اوس اسلامي امارت ته، بلکې هميشه ټول افغانستان ته په خيرنو سترګو کتلي دي. د جمهوريت په وخت کې همدا حال ؤ، تر هغې پخوا هم !...

زموږ جنګ ځپلي خلک تر ټولو ښه پوهيږي چې جنګ ګټونکی نه لري، بايلونکی او ډير بايلونکی لري. د زړه سر افغانستان چې تازه د اوږدو جګړو څخه راوتی دی، دادی د بلې تپل شوې جګړې مخ ته ودريد، اما د پاکستان سره په جګړه کې هرومرو پاکستان ډير بايلونکی دی. له هيره بايد ونه باسو چې جګړه يو دريم ګړی ګټونکی لري. هغه د وسلو توليدونکي او سوداګر دي امريکا، چين، روسيه، آلمان او بريتانيا پدې برخه کې د نړی مخکښان دي .

پدې جګړه کې پاکستاني چارواکي غواړي اسلامي امارت مجبور کړي چې د کرښې هاغاړې طالبانو پر ضد عمليات وکړي او د پښتنو او بلوڅو پاڅونونه پرې وټکوي. هغه څه چې عقلاً، منطقاً او عملاً ناممکن دي او هغه څه چې په افغانيت کې هيڅ ځای نه شي لرلی. د پاکستان دا جګړه د هغوی د عمومي ستراتيژي پرمخ بيولو يوه برخه ده چې کابل بايد وسوځې چې اسلام برباد هوسا پاتې شي. پاکستان د افغانستان په وړندې ټاکلي اوږدمهاله هميشني د کړکيچ ستراتيژي لري. متأسفانه افغانستان د پاکستان په وړاندې دوامداره ستراتيژي نه لري، ځکه نو هميشه آسيب پذيره هم دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

« په هر مصيبت کې يو ښه فرصت هم پروت وي». په اوسني تپل شوی مصيبت کې د هيواد ساتني ستر درس پروت دی. د وطن ساتنه د ټولو ملي فريضه ده، پس دولت هم بايد ملي ماهيت ولري، نه تنظيمي. حکومت کيدای شي د يو ګوند يا تنظيم په لاس کې د يوې ټاکلي ملي پروسې له لارې وي، اما بيا هم وسله وال پوځ بايد ملي وي، نه ګوندي او تنظيمي. ملي دولت د امريکا فرمايشي سهامي شرکت په بڼه « ټولګټونه دولت» سره، لکه ځمکه او آسمان توپير لري. ملي دولت د دننني بهيرونو، دننيو تعاملاتو او دننيو ځواکونو څخه رامنځته کيږي.

د يو افغان په توګه يو وړانديز: د پاکستان د هوايي تيريو په مقابل کې د ډيورند په فرضي کرښه لومړني ځوابي بريدونه په تکتيکي لحاظ، د نابربره برغلونو په توګه خورا عالي وو، اما هلته د دوامداره نښتو ادامه په ستراتيژيک لحاظ بې ګټې او آن د دواړه خواوو پښتنو په ضرر دي. هلته د پاکستان زياتره سرحدي مليشې (FC)، سره لدې چې اوس وفاقي(مرکزي) ځواکونو پورې تړلي دي، اما د انګريزانو له وخته تراوسه پورې هماغه ټپه سري پښتانه دي چې « د پنځو روپو له پاره د اغيارو نوکري کا» او ملنګ جان پرې شپيته کاله مخکې « تو لعنت » ويلي دي. د دوامداره نښتو په نتيجه کې دواړه غاړې پښتانه مري. دواړه غاړې د پښتنو کورونه تباه کيږي، سيمې تخليه کيږي، هغه څه چې د پښتنو په هکله د پاکستان په ستراتيژي کې ځای لري. د پاکستان رسمي ارقام د خپل دښمن تلفاتو په هکله ځکه مبالغه آميزه ښکاري، چې د دواړو غاړو هر پښتون چې مري، هغوی يې د خپل دښمن د تلفاتو په جمله کې حسابوي. لدې کبله، د انتقامي او ځوابي عملياتو هدف ښايي هلته د پښتونخوا د وسله والو ځواکونو په مټ ګام په ګام وړاندې تګ، د پوستو نيول، ساتل او د ټولو قبايلو سيمو آزادول وي. قبايلي سيمې د محمود خان اڅکزي له قوله، د پاکستان د جوړيدو د وخت په نقشه کې هيڅ نشته، دا سيمې يې ډير وروسته په خپل قبضه کې راوستلي. د انقلابونو د کلاسيکي تيوري سره سم، په ټوله پښتونخوا کې د آزادۍ پاڅون له پاره عيني شرايط برابر دي، يعني نور محکوم ولس نه غواړي د پخوا په څير د پرديو د يوغ لاندې ژوند وکړي او حاکم قشر نور نه شي کولای د پخوا په څير حاکميت وچلوي. اما په ټوله پښتونخوا کې د پاڅون له پاره ذهني شرايط نه دي مساعد شوي، يعني د روښانفکرانو او انقلابيونو داسي يو پياوړی سازمان چې ولس د آزادي د انقلاب رهبري وکړي، متأسفانه لا رشد نه دی کړی. اما په ټولو قبايلي سيمو کې عيني او ذهني شرايط برابر دي، يعني هم ولس او هم سازمانده ځواک، د TTP او PTM په وجود کې شته دی. دا فرصت له لاسه ورکول، هماغه د مصيبت فرصت له لاسه ورکول دي، چې بايد له لاسه ونه ووځي.

په هيواد کې د اوږدمهال دفاعي سيستم رامنځته کول او د پاکستان د مکررو تعرضونو په مقابل کې ستراتيژيک بريد ته چمتووالي د پاکستان د شر څخه د خلاصون يواځنی لار ده. لدې سره په زغرده د پښتنو او بلوڅو د آزادي‌غوښتونکي پاڅون ملاتړ ته همت پکار دی.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ